SHARIAT
شریعت
اوونيزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان
شپږم کال ۳ ګڼه پرله پسې(۳۸۳)چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شوال المکرم (۱٥)
د۱۳۷۹هـ ش کال د مرغومي دمیاشتې(۲۱)د۲۰۰۱ میلادي کال د جنوري (۱۰)

محترم معاون اقتصادي رياست الوزراء :

مسؤولين امارت اســــلامي بايد مخلصانه در خدمت ملت قرار داشته باشند

کابل - باختر :

محترم مولوي عبدالکبير معاون اقتصادي رياست الوزراء قبل از ظهر ديروز در دفتر کار شان با محترم والي ولايت کنر ملاقات نمود.

طي اين ملاقات ابتدا محترم مولوي عبدالهادي اخند زاده والي ولايت کنر پيرامون کار و فعاليت چگونگي وضع امنيتي و همچنان عرصه باز سازي در آنولايت صحبت نموده اطمينان داد که در ولايت کنر کار ها مطابق به پاليسي امارت اسلامي به پيش برده ميشود هکذا وضع امنيتي لله الحمد کاملاً آرام بوده و در بخش هاي باز سازي در آنولايت مردم و مسوولين امارت اسلامي با مساعي مشترك سعي و تلاش جدي داشته و دارند.

سپس محترم مولوي عبدالکبير معاون اقتصادي رياست الوزرا ضمن ابراز خرسندي از ملاقات با محترم والي ولايت کنر فرمودند مسوولين و منسوبين امارت اسلامي بايد مخلصانه در خدمت مردم خويش و وطن قرار داشته باشند و علايق مردم را در باز سازي کشور بيشتر از پيش جلب نمايند مردم ولايت کنر همچو ساير هموطنان از آغاز جهاد مقدس تا کنون بمنظور تحکيم و استقرار نظام اسلامي قرباني هاي زيادي داده و باور کامل دارم که همان منوال در دفع و طرد دسايس دشمنان امارت اسلامي و وطن جداً همکاري مينمايند و در باز سازي آنولايت نيز عملاً سهم ميگيرند.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نژدې دی تقوا(پرهيزګاری) ته.

(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

په کابل کې:

د ډيجيټل ټيلفون د ۱۲۰۰۰ لينه دستګاه د نصبولو کار پيل شو

ددغې دستګاه د نصبولو په مراسمو کې د مخابراتو محترم وزير او يو شمير نورو امـــارتي چارواکو ګــډون کړی و

دغه دستګاه د ا.ا.ا د مخابراتو د وزارت او د چين د ولسي جمهوريت د سي.اي.سي او هاوی کمپنيو تر منځ د يوه قرار داد له مخې پيرودل شوې ده

د ډيجيټل د دستګــــاه د مـــنتاژ کار د يو شمير کـــــورنيو او بهــــــرنيو انجنيرانو لخـــوا تر ســـــره شو

کابل - باختر :

د ډيجيټل تيلفون د دولس زره لينه دستګاه د درولو او مونتاژ کار پرون د کابل په ښار کې پيل شو.

په هغې غونډې کې چې له همدې امله د مخابراتو وزارت په مقر کې جوړه شوې وه د مخابراتو وزير محترم مولوي بار محمد رحيمي په دې ترڅ کې چې د ډيجيټل تيلفون د دولس زره لينه دستګاه د درولو او مونتاژ د کار په باب خبرې وکړې ددغې دستګاه د انجنيرانو او کارکوونکو راتلونکي دندې او مکلفيتونه يې جوت کړل او ددغې دستګاه درول يې خلکو ته د اسانتياوو په برابرولو کې ارزښتناک وباله.

دډيجيټل تيلفون دولس زره لينه دستګاه په دې وروستيو کې د افغانستان د اسلامي امارت د مخابراتو وزارت او د چين دولسي جمهوريت د سي.اي.اي.سي او هاوي کمپنيو تر منځ د قرار داد له مخې پيرودل شوې او کابل ته ليږدول شوې چې د درولو او مونتاژ ٤ مخ

د فارياب ولايت د خلکو ستونزې وڅيړل شوې

کابل - باختر :

د فارياب ولايت د مرکز ميمنې ښار د بېلا بېلو ناحيو د خلکو سيمه ييزې ستونزې او مشکلات وڅيړل شول.

د فارياب ولايت مرستيال محترم ملا دين محمد اخند پرون د ميمنې ښار د نهه ګونو ناحيو له وکيلانو سره خبرې وکړې او د اسلامي امارت د لوړو هدفونو او اساسنامې ستانه پروګرامونو څرګندولو او ٤ مخ

د پوهنې محترم وزير د خوست ولايت د پوهنې رياست اړوندې چارې وکتلې

خوست - باختر :

د پوهنې وزير محترم ملا امير خان متقي پرون د خـــوست ولايت د پوهنې رياست بېلا بېلې برخې وکتلې.

د پوهنې محترم وزير د خـــوست ولايت د ٤مخ

د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوی کلتوری معين ددغه وزارت منسوبينو ته ور وپيژندل شو

کابل - باختر :

د اطلاعاتو او کلتـــور وزارت کلتوري معين محترم مولوي عبدالباقي حقاني پرون له غرمې مخکې د يوې غونډې په ترڅ کې ددغه وزارت ماموربنو ته ور وپيژندل شو او په کار يې پيل وکړ.

په دې غونډې کې د کلام ٤ مخ

قادري بس ترانسپورت در شرف اعزام عازمين حج به عربستان سعودي

اين سفر به تناسب طـــيارات آريانا ٦٠٪ ارزان تمـــام ميشود

شرکت ترانسپورتي ترانزيتي و بارچالاني بين المللي قادري لمتد با داشتن چهل و پنج سال سابقه، خدمت در عرصه حمل و نقل در کشور، امکانات دارد تا در آينده نزديك يك کاروان ده تا دوازده هزار نفري حجاج بيت الله شريف را از افغانستان توسط وسايط موتري خويش جانب عربستان سعودي بدون کوچکترين تعلل با شرايط سهل انتقال دهد.

اين شرکت تسهيلات قابل ملاحظه، را در زمينه انتقال زميني حجاج افغاني به کعبه رويدست دارد؛ گرچه اين اقدام را نميتوان در پروسه فعاليت دراز مدت اين شرکت يك ابتکار نو و امر جديد تلقي نمود؛ زيرا کاروان هاي زميني قادري ص ٤

الګوي از بس هاي قادري بس ترانسپورت که عازمين بيت الله شريف را از افغانستان به جده انتقال خواهد داد

عکاسي يوسف

PROPERTY OF ACKU
S1789

د سوداګري اوصنايعو داطاقونو په لوي رياست کې:

د سوداګري چارو د سمون پخاطر غونډه وشوه

کابل - باختر :

په هيواد کې د سوداګرۍ د چارو د سمون او د ملي سوداګرو د ستونزو او مشکلاتو د څيړنې او حل کولو په مقصد پرون د سوداګرۍ او صنايعو د اطاقونو په لوي رياست کې يوه پراخه غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې چې د ٤ مخ

پروتوکول پست سريع بين د آريانا-افغان هوايي شرکت و شرکت خصوصي پست سريع عقد گرديد

کابل باختر :

پروتوکول انتقال پست سريع في مابين د آريانا - افغان هوايي شرکت و شرکت خصوصي پست سريع اخيراً به امضاً رسيد به منظور حمل و نقل ص ٤

د باميانو ولايت د يکاولنګ په ولسوالي کې غونډه وشوه

باميان - باختر :

د باميانو ولايت د يکاولنګ ولسوالۍ د چارواکو غونډه پرون د استخباراتو د لوی رئيس ٤مخ

د کابل پوهنتون په انګړ کې د کانکور متفرقه ازموينې واخستل شوې

کابل - باختر :

د رياست الوزرا اقتصـــادي مرستيال محترم مولوي عبدالکبير پرون د هيواد په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې د شموليت په مقصد د دولسمو ټولګيو له فارغانو څخه د کانکور د متفرقه ازموينو د اخيستلو بهير وکوت.

ددغې کتنې په بهير کې پداسې حال کې چې د لوړو زده کړو ٤مخ

توليدات فابريکه مصنوعات پلاستيکي رسولي نهايت مرغوب بوده و با بهاي ارزان به بازارعرضه ميگردد

ظرفيت توليدي اين فابريکه هم اکنــــون به ۷۰۰ جوره پاپوش در روزميرسد

شريعت: خوانندگان عزيز! خبرنگارما درجريان ارائه گزارش هاي خويش ازگوشه وکنارشهرکابل اين بار سري به فابريکه جديدالتأسيس مصنوعات پلاستيکي رسولي زده و با رئيس آن فابريکه محترم ص ٤

بخشي از نمايي دروني فابريکه مصنوعات پلاستيکي «رسولي» واقع مکروريان دوم شهر کابل عکاسي : يوسف

د ننګرهار ولايت د نازيانو ولسوالي د خلکو لخوا د ملګرو ملتود بنديزونو غندنه وشوه

ننګرهار - باختر :

د ننګرهار ولايت د نازيانو او د غني خيلو د ولسواليو عالمانو سپين ږيرو او قومي مشــرانو پرون د يوې غونډې په ترڅ کې د افغانستان پر خلاف د ملګرو ملتــو د ٤مخ

په فلسطين کې د صهيونستي ځواکونو لخوا يو تن فلسطيني شهيد او درې نور ټپيان کړی شول

بيت المقدس - باختر :

د صهيونست رژيم ځواکونو پرون په لويديځ ساحل کې په يوې ډلې فلسطينيانو باندې په ډزو سره يو تن شهيد کړ او درې تنه نوي والي خبري سرچينې ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د منځنۍ آسيا نوې اقتصادي جرګه ګي - هيلې او انديښنې

لکه چې معلومه ده د انرژۍ او نورو خامو موادو د پريمانه ذخيرو په درلودلو سره منځنۍ آسيا ډير زيات نړيوال ارزښت لري او لوی صنعتي ملکونه ټول په دې هڅه کې دي چې په يونه يو ډول له دغو طبيعي زيرمو ګټه واخلي چې له همدې کبله نوموړې سيمه د سترو ځواکونو د سيالي دګر ګرځيدلې که څه هم لس کاله مخکې ظاهراً د منځنۍ آسيا هيوادونه د شوروي اتحاد له رسمي ولکې ووتل او خپلواکي يې تر لاسه کړه، خو د همدې خپل طبيعي ۲ مخ

د اندونيزيا د پوځي الوتکي د مونډلو لپاره د لټون عمليات دوام لري

جاکارتا باختر :

د اندونيزيا يوې پوځي الوتکي د موندلو لپاره د لټون عمليات دوام لري.

دغه الوتکه د دوشنبې له ورځې راهيسې له خپلو ځو تنو سپرليو سره چې په هغو کې څو لوړ پوړي افسران هم ګډون لري د اندونيزيا د آريان جايا په ايالت کې بې درکه شوه. ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۲۷٤ هـ ش
: د لیکوال هینت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

اهمیت له امله د روسانو له زړه نه وځی او یو ځل بیا هڅه کوی تر څو خپلی منګلی پکی ټینګی او له شتمنی یی برخمن شی. د منځنی آسیا حکومتونه هم دی راز ته متوجه او څو ځله یی په خپلو کی د اقتصادی ملګرتیا او مرستی تړونونه لاسلیک کړی خو په هر ځل د روسانو د شیطانی او لاس وهنی له کبله یی اغیزی پاتی شوی دی اوس دا دی یو ځل بیا د څلورو هیوادونو قزاقستان، ازبکستان، قرغزستان او تاجکستان مشران سره جرګه او د اقتصادی ملګرتیا یو نوی تړون یی لاسلیک کړی دی. دا چی نوموړی جرګه به څومره بریالیتوب تر لاسه کړی ، له وخته مخکی خبره ده خو په هر صورت دا سیمه په اقتصادی ډګر کی خورا ژوری ملګرتیا ته اړتیا لری، تر څو وکولای شی په ډیر ښه ډول او د خپلو ولسونو د خوښی سره سم له خپلو طبیعی زیرمو کار واخلی.

د افغانستان اسلامی امارت چی تل د سیمی د ښیرازی او ودانی غوښتونکی دی ددغی ملګرتیا تایید او ملاتړ کوی او غواړی چی په فعاله توګه په دغو هڅو کی برخه واخلی خو ددی تر څنګ یو لړ اندیښنی لری او څه ستونزی هم په مخکی وینی چی ښایی د سیمی چارواکی پاملرنه ورته وکړی په دی هکله لومړی خبره دا ده چی د منځنی آسیا هیوادونه باید تر هر څه وړاندی په کامله توګه خپل سیاسی استقلال ته وده ورکړی او هغه لاسونه غوڅ کړی چی د دوی د لاندی کولو په غرض راغځیدلی وی چی په دی ترڅ کی د روسانو لاس وهنه او تلوسه ښیخی څرګنده ده . همدارنګه امریکی هم په دغه علاقه کی د ناکراری او بی باوری را پیدا کولو په هلو ځلو کی سستی نه ده کړی، خصوصاً د افغانستان په اړه یی د نوموړو حکومتونو د بدګومانه کولو ډیری هڅی کړی چی حتماً د سیمی د بی ثباتی او تاوتریخوالی باعث ګرځیدلی دی. له بلی خوا د موجودو واقعیتونو منل، د خپلو ولسونو غوښتنی او ارادی ته غاړه ایښودل او د افغانستان په هکله مثبت او رغنده دریغ خپلول مستقیماً د منځنی آسیا په اقتصادی پرمختیا کی اغیزی لری. ځکه تر څو چی نوموړی حکومتونه د خپلو ولسونو د غوښتنو درناوی ونه کړی او د واقعیتونو په منلو سره افغانستان ته د ملګرتیا لاس ورنه کړی، هغوی نه شی کولای له بلی لاری نړیوالو مارکیټونو ته مناسبه او خوندی لار پیدا کړی نو په دی اساس ښایی د اقتصادی پیوستون دا ډول هڅی تړولی نیمګړی پاتی شی د منځنی اسیا هیوادونه باید د سیمی د ودانی او ښیرازی لپاره په لومړی قدم په افغانستان کی موجود واقعیتونه ومنی . د اسلامی امارت په اړه مثبت دریغ خپل او د مغرضو هیوادو په چټی او غلطو پروپاګند وپسی ولاړ نه شی. دوی ته په کار دی چی په افغانستان کی د مخدراتو د بشپړ بندیز هر کلی او مرسته وکړی او د اسلامی بنسټ پالنی په نامه د مغرضینو په بی ځایه پروپاګند ځان ښه پوه ا و اصلی اهداف یی وپیژنی . په دی ډول به خامخا د سیمی په اقتصادی پرمختیا کی پراته مشکلات حل او ډیر ژر به نوموړی هیوادونه د ترقی او پرمختګ په لار ګامونه واخلی.

دیوی فرانسوی پیغلی دمسلمانیدو کیسه :

یوپیغور ــــ یوحقیقت

زه «۲۵» کلنه فرانسوی پیغله یم ـ دوه کاله د مخه می اسلام منلی ـ زه څنګه مسلمانه شوم دا یوه بیله او په زړه پوری کیسه ده .

له بده بخته د کوم مسلمان کره وړه له اسلام سره زما د پیوستون او علاقی سبب نه دی ګرځیدلی. معنا دا چی څوک مسلمان می نه دی موندلی چی د هغه عمل او کړه وړه را باندی داسی اغیز کړی وی چی اسلام ته می راکاږی.

زما هښی په نامه یوه مسلمان سره پیژندګلوی وه ـ یوه ورځ ورسره په بحث کیوتم د الله تعالی پر قدرت موخبری کولی ـ له هسدی ورځی می وپتیبله چی د اسلام په اړه ژوره مطالعه پیل کړم .

کله می چی پر اسلامی لارښوونو څیړنه پیل کړه ، له تولو د مخه می په اسلام کی د ښځو پر حقونو او حیثیت ریسرچ ته مخه کړه ، ځکه د هغه اړخ وچی سید باری زیات شر جوړ کړی د چی د یوی تورسری په توګه هم زما د شخصی علاقمندی خبره وه .

ما په اسلام کی د ښځی پر حقونو او حیثیت له څیړنی سره په عیسائیت او یهودیت کی هم د ښځو پر مقام او حیثیت مطالعه وغږوله .

ما دی ته ونه کتل چی د ادیانو پیروانو عمل او کړنی څه ډول دی، ځکه خو ما غوښتل د دغو ادیانو بنسټیزو اصولو له څیړنو د خپلو پوښتنو ځواب تر لاسه کړم .

په دی توګه می د دری واړو ادیانو پر تلنی په اړه مطالعه پیل کړه ، د بړزوراڅرګنده شوه چی اسلام د عیسائیت او یهودیت په پرتله ښځو ته زیات بنسټیز حقونه ورکړی دی.

اسلام تور سرو ته څوارلس سوه کاله د مخه هغه حقونه ورکړی چی فرانسوی ښځو ایله په دی پنځوسو کلونو کی تر لاسه کړی دی.

اسلام په ډیره چټکتیا ور جلب کړه.

په اسلام د بشری پوهیدنی لپاره ارینه ده چی د دغه دین تول اړخونه مطالعه شی ، بواځی د یوه اړخ مطالعه بسنده نه بلل کیږی ، اسلام د ژوند یو بشپړ نظام او قانون دی ځکه خو یی بشپړه او هر اړخیزه مطالعه ضروری ده. ما ته څرګنده شوه چی د اسلام په هر حکم او لارښوونه کی یوه عقلی څرګند تیا ځای لری داسی نه دی چی بیله سرچ او په پټو سترګو د هری خبری او حکم د منلو غوښتنه وکړی .

ما ولتیه د مسلمانانو کړنی او کردار په پام کی ونه نیو ، بلکی اسلامی تعلیماتو او لارښوونو ته می وکتل. خپله مطالعه می په ډیرو اوونیو کی بشپړه کړه خو په دغو ډیرو اوونیو کی اسلام لکه مقناطیس ورجذب کړم. په دی توګه می ځان دی ته اړ باله چی له اسلام پرته راته بله لار په مخ کی نښته.

کله می چی د مسلمانیدو پریکړه وکړه، هغه تولی ستونزی می مخی ته ودریدی چی په فرانسوی ټولنه کی له دی اړخه رامنځ ته کیدای شی، خو ما یی کومه پروا ونکړه دغه وخت په کاناډا کی وم، هلته دومره ستونزی نه وی خو کله چی فرانسی ته راوګرځیدم له ډیرو ستونزو سره مخامخ شوم.

په فرانسه کی چی هر تاریته له تورسری سره مخامخیږی په لاس ستری مشی خو لاڅه کوی چی ښکلوی یی هم، که کومه ښځه په ستری مشی کی خوله ورنکړی دا یو ډول سپکاوی ګني ، ځکه خو زه ورته یو بل ډول مخلوق ښکاریدم.

اسلام زما په ژوند کی کوم بدلونونه رامنځ ته کړل ، ددی خبری ځواب ډیر لنډ خو جامع دی هغه دا چی له خوراک، څښاک نه راواخله، تر جامو او ناستی ولاړی او اوریکو پوری هر څه کی بی بدلون راوستی دی، زه اوس د ورځی پنځه وخته لمونځ کوم ، روژه نیسم ، زکات ورکوم په پرده کی ګرځم، تیر کال می د فرانسی د پریښودو پریکړه وکړه او مراکش ته راغلم واده می نه دی شوی، چی الله تعالی ته څه منظوره وی هغه کیږی خو له دی هر څه سره ځان ډیر نیکمرغه ګنم ...

دا د یوی فرانسوی پیغلی لیلا رافین د اسلام را وړو کیسه ده چی د هر مسلمان لپاره د خوشالی یو زیری ګڼلی شی خو که سړی په لږ غور دغی کیسی ته وګوری له یوه دردوونکی حقیقت سره په مخامخ شی چی د یو ډول پیغور په بڼه یی مسلمانانو ته ګوته نیولی ده ځکه داسی څوک مسلمان یی نه دی لیدلی چی د هغه عمل او کړه وړه پری دومره اغیز کړی وی چی دا یی اسلام ته راګرځولی وی .

تر دی چی خپله وایی : « ما د مسلمانانو عمل او کړنو ته ونه کتل بلکی د اسلامی لارښوونو د مطالعی له لاری می د حقیقت موندلو هڅه وکړه ، د مسلمانانو کړو وړو ته چی څوک ګوری او اسلامی تعلیمات مطالعه کوی د ځمکی او آسمان واټن ورته مخی ته شی ، ښه ده چی لیلا رافین دغه فاصله درک کړی او د مسلمانانو اعمالو ته یی نه دی کتلی او د اسلامی لارښوونو حقیقت یی په پام کی نیولی دی .

د لیلا رافین پیغور یو داسی تریخ حقیقت دی چی هر مسلمان په خپل ګریوان کی غور او فکر ته رابولی .

۲ د مخدراتو ستونزه او نړیواله سوداګري

لیکوال: مصطفی حمدزی فاروق

[illegible] او موخی .

له نړیوالو شمیرنو ښکاری چی افغان بزګران د مخدراتو د تولی پانګی له جملی ایله زرمه برخه ګټه تر لاسه کوی اوس نو پوښتنه دا ده چی پاتی ۹۹۹٪ برخی پیسی د چا لاس ته ورځی ؟

نو چی داسی ده ، څه په وشی که نوی ملیونه ډالره په افغان کروندګرو وویشل شی تر څو د کوکنارو په ځای بل شی وکری .

بی له شکه دا یو آسانه او عملی حل دی او دا پیسی دومره کمی دی چی د ځینو نورو نړیوالو لګښتونو په مقابل کی یی یادونه هم نه شی کیدای هغه چی په ځینو بی ارزښته لاروکی مصرفیږی . مثلاً په نړیواله توګه د مخدراتو پر خلاف مبارزه کی هر کال سل ملیارده ډالره لګیږی چی دغه پیسی د افغان کروندګرو لپاره ایله د زرو کلو مصرف پوره کوی !!

آیا د امریکی د وروستیو تاکنو لګښت دری ملیارده ډالرو ته ونه رسیده ؟ چی دا پیسی د نوموړی ستونزی په حل کی د یرشو کلو لپاره بس وی .

آیا په کال ۱۹۹۸ م کی پر افغانستان د توغندویی برید لګښت سل میلونه ډالره نه و چی په پنځو دقیقو کی سرته ورسید ؟

په داسی حال کی چی دغه پیسی په هیڅ ډول د نړی د ورو هیوادونو له دفاعی لګښتونو سره د مقایسی ور نه دی او یا له هغو مصارفو سره چی د سولی پر قواو لګیږی .

آیا دا نه شی کیدای چی په افغانستان کی د مخدراتو د مخنیوی لپاره یوه شریکه پیتی (صندوق) جوړه او له هغی لاری پاکلی اندازه پانګه له افغان کروندګرو سره مرسته وشی خصوصاً د هغو هیوادو له خوا چی د مخدراتو له پلوه ځان زیانمن بولی همدارنګه که له دی پانګی د افغانی اقتصاد د بنسټونو په بیا رغونه کی کار واخیستل شی او خلکو ته کار پیدا شی ځکه د لته تقریباً (۹۰٪) خلک بی روزګاره دی.

افغان ولس سر زوری که لتاړ دی ؟

ددی پوښتنی ځواب لپاره لاندی واقعیتونو ته ګوته نیسو :

په دغه سیمه کی د آسیا له جنوب نه تر منځنی برخی له ډیر پخوا نه د کوکنارو کرنه رواج ده چی ښایی زرګونه کاله لرغونی وی چی هغه مهال دا بوټی په تنکی ډول خوری کیده او بیا وروسته په درملنه کی کارول شو .

په لوړ کچ د کوکنارو کرنه او په سوداګری کی بنسټیز حیثیت ورکول د انګریزی ښکیلاک په وخت کی دوه شول چی بیا د هند برتانوی حکومت لپاره د پانګی لویه ذریعه وګرځیده .

په لومړی ځل د انګلستان له خوا اپیم په نړیوال تجارت کی شامل او سمندری بیړی یی وګماری تر څو د نړی ګوټ ګوټ ته د کوکنارو پیداوار ورورسوی ، ان لا دا چی ددغو استعمال یی پر نورو ولسونو هم ور وتپلو چی ښه بیلګه یی د نولسمی پیړی په نیمایی کی د اپیمو هغه جګړه ده چی برتانیی په چین وروتپله .

د برتانیی دغه تګلاره د نورو نړیوالو استعماری هیوادونو لپاره هم یوه نمونه وګرځیده چی په سر کی یی امریکا وه او له هسدی لاری یی خپلی مالی ستونزی حل کولی خو بیا وروسته د پرګنو په راویښیدلو د اپیمو سوداګری د عامه رایی له خوا اغیزمنه او سوداګرو یی د ځان پټ ساتلو چلند غوره کړ چی ورو ورو د لویو خواکونو له خوا ظاهراً بد ورته ویل کیدل او په نورو کمزورو خواو په یی توروونه لګول. لکه کروندګر او نور جګړه خپلی نسټس ګری خو استعمارچیانو بیا هم د نوموړو ولسونو د ستونزو خیال نه ساته او لا په هغوی د مسلط حالت د اوږدولو هڅی یی هم کولی تر څو په دی ډول د اپیمو پیداوار نه موقع برابره او دوی ګټه تری واخلی او له همدی کبله یی افغانستان هم د روسی یرغل نه وروسته ګوډ ماټ او وران ویجاړ پریښود چی لا د کورنی جګړی اوروته یی هم پکی بل کړل تر څو خلکو ته د اپیمو له کرنی پرته بله لار پاتی نه شی خو بر عکس که چیری د غنمو په کرنه کی له افغانانو سره مرسته شوی وای نو ښه دلته د اپیمو پر ځای د غنمو پیداوار د نړی ۳ په ٤ برخو ته رسیدلی او امریکی به په غنمو کی خپل دا موجوده حیثیت بایللی وای ښایی . لنډه یی مناسبه نه وی چی په لنډه توګه د افغانستان کمزوری اقتصاد او په دی هکله د نړیوالی تولنی ذمه واری ته ګوته ونیسو :

د افغانستان داخلي اقتصادي څرګنوالي حقایق :

۱- د اقتصادی بنسټونو بشپړه تباهی .

- د هیواد د لویو لارو ویجاړتیا.

- د برېښنا نظام له منځه تلل .

- د اوبه خور نظام تړیدل .

- په نړی کی تر تولو زیاتو مینونو شتون چی نږدی (۳۰-۱۰۰) میلونه اټکل شوی او د هیواد ډیری پراخی سیمی بی خطرناکی او له کاره غورځولی دی

- د بیرونی او روزنی (ښوونځی او نارینه) نظام تړیدل.

- د وزګارتیا لوړ کچ تر دی چی د ملګرو ملتو د رپوټ له مخی دلته د کار ور کسانو (۹۰٪) برخه بی روزګاره ده

- د صنعتی مرکزونو ویجاړیدل او له هیواد نه د زیاترو مسلکی او فنی کسانو هجرت کول.

- د ګاز او تیلو د کوهیو او کار خایونو شاړیدل .

۲- د ځمکو د ویش څرګوالی داسی چی زیاتره کروند ګر کمی کمی ځمکی لری چی د کورنی د تول کال لګښت یی نه پوره کوی او د کوکنارو کرنی ته یی اړ باسی.

۳- د زیاتو کروندګرو غورځیدلی اقتصادی وضع چی د کورونو او کروندو د بیا ودانولو په لړ کی دومره پورړی شوی چی د کوکنارو له کرلو پرته یی د پور خلاصون امکان نه لری .

٤- په هیواد کی راغلی وچکالی چی نږدی (٦٥٪) برخی کسر له او مالداری یی له منځه وړی ده .

پاتي لري

متصدي صفحه : محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړۍ

چي کـشـور د افـغـانانو مـعطر کـا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

کتاب وایي

علم گل سحر

ز‌ه کـتـاب یم د لوستلو
نـه د پام غـلـطـو لـو
ځینی ځینی وخت ضایع کړی
زمـا د پاڼو په اړولو
زه یی وایستم له گـتـی
مـاشـومانو په مـروړلو
چی می څوک په قـدر پوه شی
کـړی می پورته له خـځلو
زه هم لاری ورتـه ښـایم
د نیکمـرغـه ژوند کـرلو
زه د پوهی بل مـشـال یم
نه یم ، نه یم د سـوځلو

د وینو غسل

محمد رفیق عزت

د آمو ها خوا چی ولاړی یو دوی شنی سترگی وی
ورته کـمین کی مسلمانی پښتنی سترگی وی
چی یی مـشغل نظر ته هر وخت وو څواب ویلی
د احمد شاه او میرویس خان هغه درنی سترگی وی
چی یی دگرمو اوبو غسل وو په ځان فرض کړی
چی یی د وینو غسل ورکړ دغه سری سترگی وی
دوی د پرنگ میاتی له خیاله ځنی وه ایستلی
ورته پامیر بسرکی لا هغه دوی زری سترگی وی
یا یی زمـور د آزادی ځلی ته نه کـتلو
یایی په سر کی هغه دوی سترگی ړندی سترگی وی

زلمی سوکی

محمد ایاز ترنک

د لـمـبی نازکـه ژبه د خـپـل زړه په وینو سـره ده
زلمی سـوکی پاڅی ځملي نغـری جـوړه هدیره ده
ژوند چي زمونږ له کلی لیږدی شړیدلی جیب ته لاس کړی
بوه سـپـینه خـیـره راکـړی وایی دامی سـرمـایه ده
وچکالی د کیـږدی خیال کړه پیڅولونه یی ورک نه کړی
له نیکو، نیکو راپاتی ښ همـدغـه نـښـانه ده
تک سپین وله د سپینو ستورو په دا شنه اسمان کی پیایی
له سپوږمی خوبی لیږ زده کړی گوره څومره ښه شپنه ده
اسمان مونږ په تندر ولی مونږ اسمان ته تریو ورگورو
د نغـرت باد را الوتی دلتـه هلتـه یی دیره ده
دعـاگـانی مـو شـوی شلی له برغـوی نه لتـیـږی
د غریب په قول نه کړی دا سپـین سترگی زمانه ده
په وریځو او به رغـښـتی یو څاځوکی ورکی نشـتـه
ځکه وچه دا څو مـیـاشـتـی د «ترنک» هره چینه ده

څلوریزه

نازو انا

سـحـرگـه و د نرگس لیـمه لانده
څاځکی - څاځکی یی له سـتـرگـو څڅیده
مـاویل څه دی ښکلی گله ولی ژاړی ؟
ده ویل ژوند می دی یوه خـوله خندیده

ترانه بیرق

حنیف بلخي

آیه فتح و ظفر آورده شان من است
نام من در دفتر رزمندگان ام الجیوش
با شکست من شکست قلبها توأم بود
رزمجویان معارك عاشق بالاي من
شوکت و فخر و غرور صحنه سازان غیور
در جهاد حق بخیزم استوار و پر غرور
در صفوف کارزار از راهبر تا راه جو
سر فرازي مبارز بسته آهنگ من
لیك آنگه اتکاه به بازوي افغان کنم

اوج اعزاز جهاد از موج دامان من است
رادمردان جهان از ارجمندان من است
جلوه، جنگ آوران در بند جولان من است
قلب والاي مجاهد در گروگان من است
نو نهالان ثمر خیز از بهاران من است
با مجاهد از ازل این عهدو پیمان من است
جمله اندر بند حکم و تحت فرمان من است
استوآري سنگرش از سنگ بنیان من است
دشمن اندر رزمگه مبهون و حیران من است

رخنه میسازم صفوف دشمن دین و وطن
صف شکستن خصلت نیروي ایمان من است

مجاهد ځوان

حمید الله
شبنم «عالمی»

زه مـجـاهد ځوان یم د غلیم په زړه خنجـر یمه
زه د وطن زوی یم د وطن خـدمت دی فـرض پر مـا
زه د دغی خـاوری د بچیـانو نه یو څوی یمه
دا زمـا لیلی ده زه ددی لیلی مـجنون یمـه
وگـوره تاریخ زمـا تر کـومـه رسـیدلی دی
څوک چی په کړو سترگو زما وطن ته بیا گوری

روڼ صـبـا ختلی هندوکش او په سـپین غـریمه
زه د هر دښمن په مـقـابل کي لکه سپـر یمه
لراو برمی گـوری په اسـیـا کی لکه لمـر یمـه
تا ئ ! بدټري قـربان کرم نه په مـال او نه په سر یمه
روس وو کـه انگریز وو جنگیـدلی په تبـر یمـه
پروت د «عـالمی» غـوندی مدام زه په سنگر یمـه

جابرانو ته

ملا صدیق الله مشال

آزمـویل شـوی یو یی رحـمـونو رمـومـه زوروی
چی څومـره یو ترینه زیات خـبـږونو رمـومـه کـړوی
زمـونږ د نیکونو د غـیـرت تاریخ پر کـاڼو لیک دی
نه مـو هیـریږی هم زمـونږ د زړو پرپاڼو لیک دی
پر کـاڼو لیک مـو د تاریخ کـارنامی مـه هیـروی
مـونږ پخـپـل ژوند کی د چا زور جبـر نه منلی ندی
د غـلامی تر طوق مـو هیـڅکله سـر کـیـنلی ندی
چی اوس یی نه منو پدی باندی مـومـه گـرمـوی
چی زمـونږ حـریم ته یی په سـپکه کـتل ښـه یی وینی
چی شـول یی خـاوری دلتـه غـوښی او خـو سـاککری
ولی د هغـو له انجـام ځـخـه ځان نه خـبـروی
د مکـناتو پر تبـر باندی مـونږ وه څه لیـکلی
د هغـه سـرو زخـمـو د حـال په ژبه څه ویلی
ولی مـو خـپـل وراندی تاریخ تر نظر نه تیـروی
«مـشـاله» مـونږ ده د کـریملین پر تنده قـام لیکلی
دا مـو تیـری کـو، تکو لره خـاص پیـغـام لیکلی
لیږ ورته خیـر شی د کـریملین په څیـر ځان مه شرموی

نور امید

مژده

کـاروان راهي سر منزل بطحـاسـت هنوز
گـام ها خـسـتـه و بر کـام شـرار عطش است
مـشت هر مـوج خـزف بر کف سـاحل ریزد
طرح خـورشـیـد دگـر در دل شب ریخـتـه ایم
گـرچه بـسـمل شـده تیغ سکوتیم ولي
حاصلی نیست ز چشمی که بخود دوخته است
چشم بربسته از این وادي ایمن مگذر
نه تبـرا و تـولا نه تـوکـل نه یقـین
زینت تاج شد هر سنگ که وحدت بشکست

دیده ها منتظر جلوه، فـرداست هنوز
میرویم گرچه که صحرایي صحراست هنوز
در شـهـوار نهـان در دل دریاست هنوز
نور امـیـد از آن برق تجـلاست هنوز
خون ما معرکه آراي تپش هاست هنوز
چشم دل در طلب دیده بیناست هنوز
خون صد جلوه نهان در دل سیناست هنوز
همت پست نگر بسته به صد جاست هنوز
دانه، گـوهر وحـدت به ته پاست هنوز

کم بود بار که تا پاي هدف همگامست
راه حق منتظر عـابر تنهـاست هنوز

پوهیالي لیلما «بنا» — ۱۱

شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

گذشته، پر افتخار مسلمین و وضع تأ ثر انگیز امروزي

شادروان خلیل از بند (٤٥-٦٥) از پیشرفت و ترقي مسلمانان در عرصه هاي علمي، فرهنگي و مدني یاد میتماید و زماني را در خاطره ها زنده میسازد که جهان اسلام با هم اتحاد ، اتفاق، همدلي و برادري داشتند و همه یکدست و یکدل و یك زبان در راه ترقي و پیشرفت اسلام میکوشیدند و از اثر همان اتحاد و اتفاق شان بود که اسلام روز تا روز توسعه پیدا میکرد و تعداد زیاد ملل جهان وقتي مزایاي اسلام را میدیدند، به ان میگرویدند و از آن دین رهایي بخش چیز هاي نو و تازه مي آموختند که زندگي شان را رونق میداد و آنها را به طرف بهروزي و رفاه رهنمون میشد و آنهایي که بنا بر ملحوظاتي که نزد خود داشتند، اسلام نمي آوردند این سعادت و پیروزي مسلمانان را دیده و به حال شان غبطه میخوردند و سرزمین هاي اسلامي بخاطر همان عدل و انصاف و برادري و برابري و پیشرفت و ترقي در عرصه هاي علمي و فرهنگي که داشت چنان به نظر شان پر ابهت جلوه میگیرد و عطش رفتن به ان سرزمینها را داشتند که متاسفانه امروز ملل مسلمان براي رفتن به سرزمینهاي غربي را دارند.

امروز جوامع شرقي به طور کل و اکثر جوامع اسلامي به طور خاص شور و حرکت نخستین خویش را از کف داده اند، ظلم و بیعدالتي، فساد، قدرت طلبي، تنبلي جاي آنهمه پویایي و سرزنده گي صدر اسلام را گرفته است .

اگر مسلمانان به خود آیند و با مرور تاریخ و فرهنگي پر بار خویش باز سازي و دو باره سازي خود را در عرصه هاي مختلف از سر گیرند و با یکدلي و یك تني در راه پخش و نشر حقیقت اسلام که آن خود رفاه و سعادت و پیروزي و کامگاري دنیوي و اخروي را در قبال دارد، بکوشند به اقتدار نخستین خویش نایل مي آیند .

ابراهیم خلیل طي بند هایي که خواهد آمد این موضوعات را بیان نموده که ما به تجزیه و تحلیل آن ذیلاً میپردازیم :

ترقي و تمدن مسلمانان و استعمار :

بند چهل و پنجم

در ترقي و تمدن کرده اند اعداي ما / بیگمان سیر تکامل از نشان پاي ما
غصب بنمودند آخر منزل و ماواي ما / کس ندارد این زمان وا حسرتا پرواي ما
بلکه اکنون میکند هر ملتي تحقیر ما / این مصیبت بر سر ما آمد از تقصیر ما

شرح : اساس ترقي و تکامل را در تمام عرصه هاي زنده گي مسلمانان گذاشته اند و دیگران از مسلمانان تقلید کرده اند یا به عباره دیگر مسلمانان مرجع تقلید سایر ملل بوده اند و هر ملتي که خواسته است راه ترقي و تکامل را بپیماید بر نشان پاي مسلمانان قدم گذاشته رهسپار جاده، ترقي و تکامل شده است و اما زماني که مسلمانان شور و حرکت نخستین خویش را از دست دادند علماي اروپایي تیوریهاي علمي را از مسلمانان فرا گرفته و با پشت کار خویش به ترقي و تکامل دست یازیدند و بخش نظامي شان وقاحت نموده سرزمین هاي مسلمین مثل اسپانیا و بعضي حصص دیگر را غصب نمودند و حالا با صد افسوس و حسرت باید گفت که کس پرواي مسلمین را ندارد و هر کس به شکلي از اشکال به تحقیر مسلمانان دست میزنند و اما این را نباید فراموش کنیم که همه مصیبتها و بد بختي ها از اثر تقصیر خود ما یعني بي تفاوتي و خوابزده گي بر مسلمانان نازل شده است . اگر مسلمانان در یك صف واحد قرار بگیرند و از حقوق خواهر و برادر مسلمان خویش صرفنظر از اینکه از کدام کشور است دفاع کنند هیچگاهي سیستم هاي استعماري و استکباري نمیتوانند خود کامه گي کنند و بر مسلمانان ظلم و ستم روا دارند چه ایشان میدانند که اعمال نارواي شان بالاي یك کشور حتي بالاي یك فرد مسلمان از طرف جوامع اسلامي بي جواب نخواهد ماند .

با خود بیگانه گي فرهنگي

بند چهل و ششم :

داشتیم آندم که صرف همت خود را به کار / داشتیم آندم که فکر کار و خلق دلشکار
بود ما را نزد هر ملتي وقار و اعتبار / هر کس میکرد با هم عهدي ما افتخار
تا که گرد ذلت از غفلت بروي ما نشست / هیچ قومي در شناسایي ما طرفي نبست

شرح : تا زماني که مسلمانان همت و غیرت خود را به کار انداخته بودند و در جهت پیشرفت و تکامل حرکت میکردند، دست به ابداع و نو اوري ها میزدند و مطابق اخلاق حضرت پیامبر خوي نیك داشتند نزد تمام ملل جهان عزت و وقار نیز داشتند و هر کس به هم عهدي و هم پیماني مسلمان افتخار میکرد، اما زماني که مسلمانان دست از تلاش و کوشش برداشتند و راحت طلبي را پیشه خود ساختند و به ذلت و حقارت تن در دادند و به اصطلاح زنده گي طفیلي را آغاز نمودند، دیگر هیچ ملتي به سوي مسلمانان توجه نکرد و در جهت شناسایي آنها تلاش نورزید، زیرا مسلمین بجاي ترقي و تکامل راه تقهقر را در پیش گرفتند و بجاي مسلمین مللي قد بر افراشتند که به تقلید از مسلمین تلاش و کوشش را پیشه، خود نموده بودند .

پویایي گذشته و سکون کنوني :

بند چهل و هفتم :

تا میکردیم کار و کوشش و صرف دماغ / تا نمي جستیم از سعي و عمل کنج فراغ
تا میکردیم از همت ره، مقصد سراغ / صحن گیتي روشن از ما بود چون شب از چراغ
بر بهار ارتقا و رفعت ما روزگار / داشت مانند چمن بر سرو و شمشاد افتخار

شرح: تا زماني که ما مسلمانان در جهت پیشرفت و ترقي که خواست و اساس اسلام است کار و کوشش میکردیم و زحمت میکشیدیم و فکر و دماغ خود را در جهت کشفیات و اختراعات علمي به کار مي انداختیم و تا زماني که از سعي و کوشش و تلاش خسته نشده بودیم و کنج راحتي و فراغت را جستجو نمیکردیم و تا وقتي که راه رسیدن به مقصد و هدف را تعقیب و جستجو میکردیم، صحن جهان از وجود ما مسلمین چون شب از موجودیت چراغ روشن و درخشان بود ، یعني قبل از اسلام جهان از لحاظ فکري یکسره مانند شب تیره و تار بود و مسلمین به پیروي از اسلام با افکار و عملکرد هاي خویش جهان را روشن نموده بودند و حتي زمان هم از بهار ارتقا و تکامل مسلمانان چون چمن از داشتن درختان سرو و شمشاد افتخار میکرد .

شهرت بین المللي مسلمانان

بند چهل و هشتم :

از کمال کوشش مردانه و عزم متین / از وفور غیرت اسلامي و فکر زرین
مصلح نوع بشر بودیم در روي زمین / صوت ساز دهر بود آهنگ ما را افرین

ص ٤

شرح منظومهء عروج و ...

همت ما چون سحر روزي جهان تسخير بود — شهرت ما نيز چون خورشيد عالمگير بود

شرح: ما مسلمانان بخاطر كوشش و تلاش مردانه و شجاعانه بي كه داشتيم و دارنده، عزم محكم و استوار بوديم و همت و غيرت اسلامي داشتيم و داراي افكار طلايي يعني پيشرفته بوديم پيوسته در ميان ملل جهان و نوع بشر به حيث مصلح، صادقانه و صميمانه عمل ميكرديم و اصلاحات نيك در ميان شان پديد مي آورديم به همين علت بود كه جهانيان به آهنگ و روش كار ما آفرين ميگفتند و تحسين ميكردند ؛ و بنا بر همين علل بود كه جهان از لحاظ معنوي و روحي در تصرف ما مسلمانان بود و شهرت ما مانند شعاع آفتاب به همه جا رسيده بود .

قابل ياد آوريست كه شاعر درين چار بند به علل داخلي و ذهني انحطاط جوامع اسلامي اشاره نموده و از قوت و قدرت مسلمين در گذشته ياد مينمايد و به مخاطبان خود كه مسلمانان امروز است خاطر نشان ميكند كه بايد به آن گذشته متوجه شوند و به خود آگاهي برسند و بدانند كه به هر اندازه يي كه مسلمين بر اساس اسلام حركت نمايند و با در نظر داشت شرايط زمان كار و كوشش كنند و به خود ارزش قايل شوند و از جهل و ناداني بيرون آيند و بجاي آن به علم و دانش قدر و قيمت دهند و با تواضع رفتار نمايند و هوشيارانه و آگاهانه عدالت را پيشه كنند ميتوانند بار ديگر آن عظمت ديرين خود را پيدا نمايند و از خواري و ذلت كه نتيجه ناداني است بدر امده به موفقيت، سعادت و رفاه و آسايش دست يابند . **ادامه دارد**

توليدات فابريكه مصنوعات پلاستيكي ...

محمدياسين رسولي پيرامون چگونگي كاروفعاليت شان مصاحبه را انجام داده است كه اينك پيشكش شماعزيزان ميگردد.

درآغازمحترم رسولي چنين گفتند: فابريكه مصنوعات پلاستيكي رسولي كه درجوارمطبعه امارتي متصل بلاك ۱۰۷ مكروريان دوم قريب تانك تيل موقعيت دارد بتاريخ ۱۹-۷-۱۴۲۱ هـ ق بابدست آوردن جوازفعاليت توليدي ازرياست محترم سرمايه گذاري خصوصي باسرمايه ابتدائي ۵۴۶ مليون افغاني فعاليت توليدي خويش را آغاز و به تعداد ۳۰ تن ازهموطنان ما در بخش هاي ماشين قالب ريزي وغيره درآن مصروف كارميباشند.

نامبرده افزودند: ظرفيت توليدي ما فعلاًهمه روزه به ۷۰۰ جوره پاپوش پلاستيكي (كلوش) كه ازنگاه جنسيت ازتوليدات مشابه خارجي درسطح بالاتر قراردارد ،ميرسد. توليدات فابريكه ما نهايت مرغوب وعالي بوده ومورد پسندهموطنان عزيزماقرارگرفته است تقاضاي آن دربازارنهايت زياداست .حتي ازولايات دوردست كشورنيزهموطنان ماغرض بدست آوردن امتعه مورد پسند شان مراجعه مينمايند.

دراخيرمحترم رسولي رئيس فابريكه مصنوعات پلاستيكي رسولي چنين اظهارداشتند:

فابريكه مصنوعات پلاستيكي كه ازفعاليت آن ديري نگذاشته است تا اكنون توانسته است كه براي هموطنان عزيزخويش كه ازناحيه اقتصادي مشكلات دارند پاپوش هاي مرغوب وعالي رابه نرخ ارزان عرضه نمايد. فعلاًفعاليت مابطورنورمال جريان داشته وكدام پرابلمي درعرصه توليدات خويش نداريم .

البته درآينده نزديك تصميم داريم كه سطح توليدات خويش راموازي باتقاضاي بازاربلندبرده وهلگرامكانات ميسرگرديد. درپهلوي كلوش به توليد چپلك هاي پلاستيكي نيزخواهيم پرداخت وچپلك هاي مرغوب راباقيمت ارزان به بازارعرضه خواهيم نمود و از اين ناحيه نيزتقاضا ونيازمندي هموطنان عزيزخويش رامرفوع خواهيم ساخت .

محمد رفيق «عزت»

د پوهني محترم ...

پوهني رياست د بيلابيلو برخو د كتني په ترڅ كي ددغه ولايت له مرستيال محترم ملا عطاجان سعيد سره پداسي حال كي چي د خوست ولايت د پوهني رئيس د پوهني رياست مرستيال د ولايت اداري رئيس د قوايد عامي رئيس او ددغه ولايت بو شمير امارتي چارواكي حاضر و وكتل.

په ي كتنه كي د خوست ولايت د مدرسو تدريسي چارو د ښه والي په باره كي خبري اتري وشوي او د چارو د لا زيات ښه والي په خاطر ددغه ولايت د پوهني چارواكو ته د پوهني د محترم وزير لخوا مشخصي او **لازمي لارښووني وشوي.**

د اطلاعاتو او ...

الله مجيد څو مبارك آيتونه ولوستل شول او وروسته د اطلاعاتو او كلتور وزير محترم مولوي قدرت الله جمال په دي تازك او تاريخي پړاو كي د امارتي چارواكو او په تيره بيا د مطبوعاتو د كاركوونكو د سترو دندو او مكلفيتونو د بيانولو او ځرګندولو په ترڅ كي د افغانستان د خلكو د جهاد او د اسلامي نظام د ټينګښت په كار كي د اطلاعاتو او كلتور وزارت د محترم نوي معين كار نامي ارزښتناكي وبللي . وروسته د اطلاعاتو او كلتور وزارت كلتوري معين محترم مولوي عبدالباقي حقاني د اسلامي انقلاب د بريالېتوب په كار كي زموږ د مجاهد ملت د پر له پسي او نه ستړي كېدونكو هڅو او هاند او د هغو زياتو قربانيو د يادوني په ترڅ كي چي په هيواد كي يي د اسلامي واكمني د ټينګښت په لاره كي وركړيدي په هيواد كي د پرمختګونو په لاره كي د عالمانو او د سياسي او اقتصادي چارو او د نورو برخو رول ستر وباله او تياري يي ځرګند كړ چي د اطلاعاتو او كلتور وزارت د منسوبينو په همكاري خلكو ته د ارزښتناكو خدمتونو او ددغه ستر مسوليت د تر سره كولو په لاره كي له هيڅ راز همكاري څخه ډډه نه كوي.

غونډه د اسلامي نظام د ټينګښت او د افغانستان مومنو او مسلمانو خلكو ته د لا زياتو خدمتونو د تر سره كولو او په نړي كي د ټول مسلمه امت د بريالېتوب په باب د چارو د اداري د لوي رياست د مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حقاني لخوا د دعايي په لوستلو سره پاي ته ورسيده .

د سوداګري په ...

سوداګري وزارت د معين محترم مولوي فضل محمد فيضان په مشري او د سوداګري او صنايعو د اطاقونو د لوي رئيس محترم ملا محمد داود عابد او د اړوندو ادارو د چارواكو په ګډون ددغه رياست په مقر كي جوړه شوي وه له اجندا سره سم د هيواد د **ملي سوداګرو د يو لړ ستونزو او مشكلاتو په باب خبري اتري وشوي او د هغو د حل كولو په خاطر لازم تصميمونه ونيول شول. او اړوندو مراجعو ته مشخصي لارښووني وشوي د غونډي كار دوام لري.**

د اندونيزيا ...

د اندونيزيا د پوځ بوه وياند وويل ددغي الوتكي د موندلو **لپاره هڅي دوام لري خو وبي نشو كولي ددغي الوتكي لويدل تاييد كړي د اندونيزيا مقاماتو ويلي دي چي د ورانكاري احتمال موجود دي خو د هغي اړيكي يي د اريان جايا له بيلتون غوښتونكو سره ردكړي .**

اطلاعيه وزارت عدليه

وزارت عدليه براي تدريس سالم تعليمي و تربيتي اسلامي آنعده از اطفاليكه تحت حجز پر دارالتاديب قرار دارند به استادان مجرب در بدل معاش كافي ضرورت دارد.

كسانيكه شايستگي تدريس علوم ديني ابتدايي را داشته باشند به وزارت عدليه مراجعه نمايند تا مطابق اصول و مقررات بمرجع مربوط معرفي شوند.

د كابل پوهنتون ...

وزير محترم قاري دين محمد حنيف ، د اطلاعاتو او كلتور وزير محترم مولوي قدرت اله جمال او يو شمير نور امارتي چارواكي او د كابل پوهنتون د مشرتابه هيأت ورسره و د رياست الوزرا محترم اقتصادي مرستيال په كابل پوهنتون كي د هيواد د تحصيلي موسسو د كانكور د ازمويني بيلا بيلي حوزي وكتلي او د كانكور د ازمويني له څېنو برخوالو څخه يي د احوالو پوښتنه وكړه او د كانكور د ازمويني د ځرنګوالي په اړوند يي د معلوماتو غوښتنه وكړه او د كانكور د ازمويني د برخه والو پارچي يي وكتلي.

دغه راز د رياست الوزرا محترم اقتصادي مرستيال د كابل پوهنتون د بيلا بيلو پوهنځيو له استادانو او د كانكور د ازمويني د اخيستلو د كميټي له غړو سره له كتني وروسته د هغوي نظريي او پيشنهادونه واوريدل . د رياست الوزرا محترم اقتصادي مرستيال د كانكور د ازمويني د بهير له كتني وروسته د افغانستان د اسلامي امارت د فرهنګي تګلاري او د لوړو زده كړو موسسو ته د ځانګړي پاملرني په اړوند د ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب ووايه .

د فارياب ...

بيانولو په ترڅ كي يي خلكو او ټولني ته د خدمت په لاره كي د وكيلانو دندي او مكلفيتونه جوت كړل او د اړوندو ناحيو د پښتنو خلكو د ستونزو او مشكلاتو د لري كولو په خاطر لازمي تصميمونه ونيول شول.

په فلسطين كي...

نور مظلوم فلسطينيان يي ټپيان كړل.

د يهوديانو د استوګني د ښارګوټي بيوزلو كسانو تيره شپه د حارث په كلي باندي بريد وكړ او ددغه كلي په خلكو باندي په ډزو سره يي يو فلسطيني شهيد او څلور تنه نور ټپيان كړل.

دغه راز صهيونيستي پوځيانو د ختيځ بيت المقدس په اوسيدونكو باندي بريغل وكړ او صهيونيستانو ددغه رژيم د پوځونو په ملاتړ د اقصي جوماتت ته ځيرمه په فلسطينيانو باندي بريد وكړ چي له دي امله څو تنه فلسطينيان ټپيان شول. فلسطيني مبارزينو پرون هم په نيول شويو ځمكو كي د اسرائيلو د يرغلګر رژيم په څو اډو باندي بريدونه وكړل . چي له دي امله د سر د رسيدلو زيانونو او مالي تاوانونو په باب څه خبر ندي تر لاسه شوي.

د ديجيتل تيلفون ...

كار يي پرون د كورنيو او بهرنيو انجنيرانو لخوا پيل شو . تاكل شويده د مونتاژ كار يي په نږدي راتلونكي كي بشپړ او د ګټي اخيستني وړ وګرځي .

د باميانو ولايت ...

محترم قاري احمد الله په مشري په دغي ولسوالي كي جوړه شوه .

په دي غونډه كي چي د بغلان ولايت د نظامي مسول محترم ملا عبدالباقي او د محترم ملا شهزاده په ګډون جوړه شوه لومړي محترم قاري احمد الله د وينا په ترڅ كي د خليلي د ډلګي له توطئو او دسيسو څخه چي تل په شرارت لاس پوري كوي پرده پورته كړه او په هيواد كي د سولي او امنيت د لا زيات ټينګښت په لاره كي يي د اسلامي امارت پاليسي بيان كړه .

دغه راز په دي غونډه كي برخه والو تياري ځرګند كړ چي د اسلام د مبين دين او د خلكو د دښمنانو د ناوړو پلانونو د شنډولو په لاره كي له هيڅ راز سرښندني او ځان تيربدني څخه ډډه نه كوي او د اسلامي امارت د ارزښتونو د دفاع او په هيواد كي د سولي او امنيت د تامينولو په خاطر د خپل ژوندانه تر وروستي سلګي پوري مبارزه كوي

د ننګرهار ...

سازمان د امنيت شورا بنديزونه وغندل.

ددغي غونډي په بهير كي د ختيځ زون د تنظيمه رياست مرستيال او د ننګرهار ولايت مرستيال محترم مولوي صدراعظم د ختيځ زون د عالمانو شورا رئيس محترم مولوي حاجي محمد د ننګرهار ولايت د مرافعه محكمي رئيس محترم مولوي صالح محمد حقاني او څو تنو نورو په وار سره په دي ترڅ كي چي د عاليقدر امير المومنين د هغو فرمانونو او لارښوونو ښيګڼي چي په هيواد كي د كوكنارو د كركيلي د بيخي بندولو په خاطر صادر شويدي بيان كړي او د دغو ولسواليو له خلكو څخه يي وغوښتل چي د اسلامي امارت د مقام فرمانونه په هيواد كي تطبيق كړي.

وروسته محترم مولوي سهيل خان د ناژيانو د خلكو په نمايندګي او محترم سيد حبيب ګل پاچا د غني خيلو ولسوالي د خلكو په نمايندګي په دي ترڅ كي چي په خپلو اړوندو سيمو كي د مخدره موادو د كركيلي او توليد د مخنيوي په لاره كي خپل بشپړ تياري ځرګند كړ .

د ګوون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

قادري بس ترانسپورت در شرف اعزام ...

بس ترانسپورت بين سالهاي ۱۳۵۰ - ۱۳۶۰ هـ ش حجاج افغاني را به تكرار الي جده انتقال داده است و اقدام كنوني هم نتيجه، پيگيري تلاش هاي سي و شش ماهه اين شركت پنداشته شده كه سر انجام در سال روان «قادري» موفق گرديد تا در قسمت پروسه انتقال حجاج افغاني به سعودي متمم كار د آريانا افغان هوايي شركت گردد.

حميد «قادري» مسؤول شركت ترانزيتي و بارچالاني بين المللي قادري لمتد ميگويد : علي الرغم اينكه ما درين زمينه موافقه، رسمي مقام امارت اسلامي افغانستان و وزارت حج و اوقاف را بدست داريم؛ اما تا حال كدام قرار داد مشخص همراه اين شركت عقد نگرديده است ؛ البته در صورت عقد چنين يك قرار داد شركت اطمينان كامل دارد كه ميتواند تمام تسهيلات سفر اين كاروان را هم در داخل و هم در خارج از كشور به شكل منظم تهيه و آماده نمايد.

وي تلويحاً از تسهيلات اين سفر ياد آور شده ميگويد : با وصف اينكه كرايه كاروان زميني حجاج بيت الله شريف به تناسب طيارات د آريانا افغان هوايي شركت خيلي در تقليل قرار داشته و از هر حيث براي حجاج اقتصادي تمام ميشود ، نهايتاً اين سفر ۳-۴ روز را در بر خواهد داشت ؛ هكذا تهيه غذا ، خدمات صحي و معيشتي حجاج از افغانستان الي جده نيز بدوش شركت مي باشد.

سالانه سهميه حجاج بيت الله شريف نظر به ميزان نفوس هر كشور اسلامي سنجش شده و از طريق عربستان سعودي براي هر كشور اسلامي مطابق همين محاسبه سهم داده ميشود ، در سال هاي اخير سهم حجاج امارت اسلامي افغانستان نظر به نفوس كشور ۲۲ هزار در نظر گرفته شده است، اين در حاليست كه طي ٤ سال اخير از كشور ما فقط ۹-۱۱ هزار زائر اعم از طبقه، ذكور و اناث از طريق طيارات د آريانا افغان هوايي شركت عازم بيت الله شريف گرديده و ۱۰-۱۲ هزار سهم حجاج افغاني بدون استفاده در سال باقي مانده است .

حميد «قادري» در زمينه چنين اذعان ميدارد : ما ميخواهيم در آينده، قريب آن عده از هموطنان كم بضاعت خويش را كه استطاعت اداي فريضه حج را از طريق طيارات آريانا ندارند و از سهم مجموعي امارت اسلامي باقي ميمانند در كاروان خويش شامل سازيم.

وي مبداء حركت اين كاروان را شهر هاي هرات-كندهار خوانده مي افزايد : اين كاروان اولاً از كشور ايران گذشته ثانياً وارد دوبي ميشود و از آنجا راه عربستان سعودي را در پيش ميگيرد و هم احتمال ميرود كه بعد از ايران راه تركيه را در پش گرفته از آنجا به سوريه بعد از سوريه به اردن و سر انجام به جده منتهي شود ، با اين همه تلاش ما در كل همين است كه به هر وسيله و امكانيكه ميسر ميشود بايد با پول كم و راه كوتاه اين كاروان را به جده برسانيم ؛ البته از طريق نمايندگي هاي خارجي اين شركت تفاهمات مثبت در زمينه انتقال و عبور حجاج افغاني از مسير اين كاروان با دولت ايران و امارات متحده عربي صورت گرفته و هيچ نوع موانع قانوني براي اين شركت در زمينه وجود ندارد.

وي در حاليكه اين اقدام را براي طبقه، كم بضاعت كشور از هر جهت نافع تلقي نمود ياد آور شد كه حاملين اين كاروان در حقيقت امر هم حج خواهند نمود و هم سياحت .

بيدريغ كه در شرايط تشديد تعزيرات كاروان زميني حجاج افغاني به عنوان بهترين مبلغين امارت ميتوانند صداي ا.ا.ا و مشكلات فقر و بيچارگي ملت حاجتمند افغان را كه ناشي از جبر تعزيرات و خشكسالي در كشور است وسيعاً به گوش مسلمانان كشور هاي جهان اسلام برسانند، كه اين امر در نفس خود قادرست يكتعداد ذهنيت هاي نا آگاه و مترد **بين المللي را با گرايش نيك متوجه امارت بسازند، بناً اين امر به دولتمردان امارت اسلامي افغانستان تعلق ميگيرد كه ايشان چگونه ميتوانند از اين بلند گويان به نفع سياست داخلي و خارجي امارت استفاده اعظمي ببرند.**

مهربان

پروتوكول پست سريع بين ...

سريع تمام اقلام پستي اخيراً پروتوكول انتقال پست سريع في مابين د آريانا - افغان هوايي شركت و شركت خصوصي پست سريع به امضا رسيد. به اساس اين پروتوكول د آريانا - افغان هوايي شركت بسته عاجل پست سريع باختر را ذريعه پرواز هاي برنامه ريزي شده خويش در بدل كرايه تثبيت شده في كيلو گرام كارگو تحت علم و خبر انتقال مي دهد . پروتوكول متذكره را محترم ملا حميد الله اخند رئيس د آريانا- افغان هوايي شركت و محترم داكتر محمد هاشم وهاج رئيس شركت پست سريع باختر به امضا رسانده در اين ميان هر دو طرف امضا پروتوكول را يك گام ارزنده خوانده و آنرا در جهت ايجاد سهولت هاي ممكن به هموطنان ما مهم و قابل اهميت تلقي نمودند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press